شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**تقلید افعال غیر مسلمان در روز های عید حرام است**

بعضی ها خود را مسلمان خطات کرده و مدعی امتی رسول الله صلی الله علیه وسلم می داند، اما در روز های عید شکل، صورت و لباس خود را مانند غیر مسلمان می سازد، مثل غیر مسلمان لباس می پوشند ریش خودرا می تراشد(درحالیکه ریش تراشیدن یا از یک قبضه کم کردن، کار یهودی، نصرانی، مجوسی و خلاف شریعت است). پس اینچنین شخص به کدام زبان دعوای امتی بودن رسول الله صلی الله علیه وسلم را می کند؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم می فر ماید: ترجمه: کسیکه با یک قوم مشابهت کند پس او از همان قوم شمرده می شود.
لهذا مسلمان باید در روزهای عید مطابق شریعت مانند مردمان نیک لباس بپوشند و مانند آنها شکل و صورت خود را بسازد، تا الله متعال به سبب این مشابهت برما نیز رحم کند.
( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

پنجشنبه| دذولحجة الحرم ٦ -١٤٤٥ال س/ د غبرګولی ۲۴-۱۴۰۳ال ل/ د جون ۱۳-۲۰۲۴ز/دریم کال / ۱۰۳ گنه/ ٤ مخیزه ١

## سر مقاله

### نقش تفتیش داخلی در بهبود ادارات

امروزه تفتیش داخلی جزو لاینفک کنترل داخلی ادارات بوده حتی پیشرفته ترین کشور های جهان هم از آن بی نیاز نبوده و به نقش ارزنده آن ارزش قایل اند. تفتیش داخلی همان گونه که از تعریفش پیداست که یک فعالیت مستقل، اطمینان بخش، واقع بینانه و مشاوره ای است که برای ارزش افزایی و بهبود عملیات سازمان طراحی شده است. مفتیش داخلی با فراهم ساختن رویکردی سیستماتیك و ارزشمندی برای ارزیابی و بهبود اثر بخشی فرایند های رهبری، مدیریت ریسك و کنترل، اداره را در دستیابی به هدف هایش یاری می کند، نقش مشاوره ای را در راستای عملکرد های ادارات بازی نموده آنچه را که لازم است تا ادارات برای بدست آوردن اهدافشان در معرض تطبیق قرار دهد، به ایشان سفارش می نماید. اما آنچه که قابل ذکر دانسته می شود این است که مفتیشان داخلی باید خود از افراد و کارمندان اداره مورد بررسی معلومات بیشتری در ارتباط به آنچه اداره آن را انجام می دهد داشته و دارای تجارب کافی در زمینه کاری ادارات داشته باشند؛ زیرا در صورت عدم همچو آگاهی و تجارب لازم هم وقت خود را هدر داده است و هم کارمندان را در بیراهه می کشانند که در نتیجه نه تنها باعث بهبود ادارات نمی شود، بلکه ادارات را در دو راهی قرار میدهند.
گرچه تفتیش داخلی ادارات به ویژه تفتیش داخلی وزارت مالیه توانسته است تا حدی این نقش سازنده خویش را که در تعریف تفتیش داخلی تذکر یافت ایفا نمایند و در دوران تفتیش مشکلات و خطرات زیادی را برملا ساخته سفارشات سازنده ای را ارائه دارند و باعث شفافیت بیشتری در ادارات شده اند؛ اما تفتیش داخلی در واقع یک قوه بازدارنده به شمار می رود. کارمند زمانی که می داند کار هایش مورد بررسی اداره ای بنام تفتیش داخلی قرار خواهد گرفت، از ارتکاب اشتباهات عمدی پرهیز نموده نمی تواند به آسانی جرأت کند تا از قوانین و مقررات نافذه تخطی ورزیده اداره را دچار مشکلات و خطرات مالی و یا غیر مالی سازد.
این یك امر مسلم است که هیچ اداره ای از اشتباه خالی نبوده در هر کار و فعالیت اداره ریسك و خطرات اشتباه عمدی و غیر عمدی موجود است. بنابراین تفتیش داخلی نقش کشفی را در ادارات بازی نموده می تواند از همچو اشتباهات جلوگیری و کشف نماید با وجود این که کشف و جلوگیری از تخطی ها به ویژه تقلب و یا اختلاس از وظایف مبرم خود اداره مورد رسیدگی به شمار می رود.
در کشور ما تفتیش های داخلی همان گونه که لازم است نقش خود را به درستی ایفا ننموده اند؛ ولی از طرف دیگر ادارات هم به مفتیشان به دیده شك نگریسته گمان می برند که مفتیش برای بدنامی و رسوایی آنها آمده است و برای ایشان دوسیه ای می سازد، در حالی که این کار وظیفه مفتیشان داخلی نه بلکه مفتیشان خارجی است تا افراد نابکار را کشف و رسوا ساخته در چنگال قانون بسپارد. ادارات باید مفتیشان را همکار خویش پنداشته آنها را در راستای بدست آوردن اهدافشان یاری رسانیده سهولت های لازم را فراهم سازند. گرچه مفتیشان داخلی در صورت مواجه با همچو تخطی ها طفره نرفته نمی توانند از آن چشم پوشی کنند.
همانگونه که به مشاهده می رسد مفتیشان داخلی در بهبود ادارات و شفافیت بیشتر از راه ارایه سفارشات سازنده و سودمند توانسته اند مبالغ هنگفتی را از مودیان وصول نموده در عواید افزایش قابل ملاحظه ای را به میان آورند.
هر گاه تفتیش داخلی ادارات کشور تحت یك چتر واحد فعالیت خود را ادامه دهند و با کار برد روش های یکسان ادارات را مورد بررسی قرار دهند نقش گسترده تری را ایفا خواهند کرد. همین گونه با اعطای صلاحیت های بیشتر به تفتیش داخلی نقش ایشان برازنده تر شده ادارات را در بدست آوردن اهدافشان بیشتر یاری می دهند.
خلاصه تفتیش داخلی در بهبود فعالیت های ادارات و آوردن شفافیت چه مالی و چه غیر مالی نقش ارزنده داشته تا حدی زیادی این نقش را ایفا نموده ولی این به معنی آن نیست که دیگر کار تفتیش داخلی اختتام یافته است و ادارات هم به صورت کامل وظایف خویش را کما حقه ادا نموده اند و نیازی به مشاوره مفتیشان ندارند؛ بلکه تفتیش داخلی یك فعالیت متداوم بوده هرگز این کار ایشان پایان پذیر نمی باشد. بناءً لازم است تا ادارات مفتیشان داخلی را در ایفای نقش ایشان یاری رسانده سهولت های لازم را صادقانه فراهم سازند تا یك اداره عاری از فساد و مسلکی به وجود آمده مفتیشان بتوانند نقش اقتصادی خود را در راستای خود کفایی اقتصادی ایفا نمایند.

**با احترام**
**اداره**

## د هیواد ګمرکي چارو د روان کال د غويي په میاشت کي (۳۰) سلنه پرمختګ کړی دئ




د ګمرکونو او عوايدو معين ملا عبدالقاهر حاجي ادريس په مشرۍ د روان مالي کال د ثور په مياشت کي د هيواد په ګمرکونو کي د تر سره سوو فعاليتونو د تخنيکي ارزوني په موخه ناسته وسوه.
په دې ناسته کي د ګمرکونو لوی رئيس الحاج مفتي عبدالمتين سعيد، د ګمرکونو لوی رياست مرستيالانو، يو شمېر رئيسانو، آمرينو او د ويډيو کنفرانس له لاري د ولايتي ګمرکونو مسؤلينو ګډون کړی وو.
د ګمرکونو او عوايدو معين ټولو ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ د ګمرکونو مياشتنۍ ارزونه ډېره اړينه ياده کړه او زياته ئې کړه، چي اوس مهال په ګمرکونو کي چاري ښې رواني دي او هيله ئې وښوده، چي نوري به هم ښې سي.
نوموړي پر خپل وخت سره اړوندو دندو ته د حاضرېدو، د سوداګرو ستونزو ته د رسېدو، له مراجعينو سره د ښه سلوك، د اړوندو کارکوونکو د چارو د څارني، پر خپل وخت سره د ګمرکونو لوی رياست د سپارښتنو د پلي کولو او يو شمېر نورو موضوعاتو په اړه د ولايتي ګمرکونو مسؤلينو ته سپارښتني وکړې.
د ګمرکونو لوی رياست د پلان جوړوني، پاليسۍ، څارني او ارزوني رئيس محمد وسيم عثمان له لوري د (۱۴۰۳) کال د غويي په مياشت کي په ګمرکونو کي د ترسره سوو فعاليتونو په تړاو تولیز راپور وړاندي سو او همدا راز په دې موده کي د عوايدو د راټولېدو، د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د تر سره سوي سوداګرۍ، د وارداتي توکو د ګمرکي ارزښت او د سوداګريزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه ګډونوالو ته بشپړ معلومات وړاندي سول. په دې راپور کي د هيواد د ګمرکونو چاري د روان مالي کال د غويي په مياشت کي د پروسږ کال همدې مودې په پرتله (۳۰) سلنه مثبتي وښودل سوې.
د ګمرکونو لوی رئيس په خپلو خبرونو کي د ولايتي ګمرکونو د مسؤلينو او کارکوونکو له لوري د ترسره سوو فعاليتونو څخه مننه وکړه او ټينګار ئې وکړ، چي د چارو د لا ښه والي په موخه دي د کارکوونکو ترمنځ همغږي لا زياته او مسؤلين دي ټولو برخو په ځانګړې ډول د بيې ايښودني او تشريح برخو ته جدي پاملرنه وکړي.
د ولايتي ګمرکونو مسؤلينو هم په خپل وار سره په خپلو اړوندو کاري برخو کي د شته ستونزو يادونه وکړه، چي د ګمرکونو لوی رياست د رهبرۍ له لوري ئې د ژر حل کېدو ډاډ ورکړل سو.

## د اسلام کلا په ګمرک کي د څه کم ۲۳۲ میلیونه افغانیو په ارزښت پروژه پیل سوه





د هرات ولايت د اسلام کلا په ګمرك کي د (۲۳۱،۸) ميليونه افغانيو په ارزښت د موټرونو د تمځای جوړولو پروژه د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رئيس الحاج مفتي عبدالمتين سعيد له لوري د پټي په پرې کولو سره پيل سوه.
په همدې تړاو جوړ سوو مراسمو کي د هرات والي مرستيال، د ګمرکونو لوی رياست د حمايت او پراختيا رئيس، د هرات ګمرك رئيس، د ياد ولايت د نورم او ستندرډ رئيس، د سوداګرۍ او پانګوني خوني سرپرست او ګڼ شمېر نورو سيمه ييزو مسؤلينو ګډون کړی وو.
د موټرونو دا تمځای به پر (۳۷) جريبه ځمکه باندي په معياري ډول ورغول سي، چي د ټولو اړينو اسانتياوو؛ لکه: د اور وژني سيستم، شنه ساحه او د برېښنايي سيستم څخه برخمن وي.
د ګمرکونو لوی رئيس د دې پروژې په پرانيستغونډه کي وويل، چي دا پروژه د ګمرکونو له پراختيايي پروژو څخه تر ټولو لويه پروژه ده، چي په پلي کېدو سره به ئې سوداګرو، موټر چلوونکو او د ګمرك کارکوونکو ته ډېري اسانتياوي رامنځته سي. نوموړي د دې پروژې له قراردادي شرکت څخه وغوښتل، چي د پروژې چاري له قرارداد سره سم په ټاکلي وخت کي بشپړي کړي.
د اسلام کلا ګمرك د موټرونو تمځای جوړېدو پروژه د ملي پراختيا شرکت ته د ملي تدارکاتو کمېسيون له لوري ورکړل سوې ده، چي چاري به ئې تر راتلونکو (۱۴) مياشتو پوري بشپړي سي.
د يادوني وړ ده، چي د دې پروژې ټول لګښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي.

## د ملي بوديجې د غوره مدیریت او له بې ځایه لګښتونو څخه د مخنیوي په موخه روزنیز سیمینار جوړ سو




د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست د ملي بوديجې د ښه مديريت او د بې ځايه لګښتونو د مخنيوي په موخه د بوديجوي واحدونو رئيسانو او مالي او حسابي آمرينو ته روزنيز سيمينار جوړ کړ.
په دغه ناسته کي، چي د ماليې وزارت په خيبرهال کي جوړه سوې وه، د خزاينو لوی رئيس نصرت الله محمود، د محاسباتو رئيس محب الله صاحبزاده او د بوديجوي واحدونو رئيسانو او مالي او حسابي آمرينو برخه اخيستې وه.
ښاغلي نصرت الله محمود، د دې سيمينار په پرانيستي وينا کي ګډونوالو ته وويل، چي نننی سيمينار موږ ته دا فرصت په لاس راکوي، چي له دغه سيمينار څخه په ګټه اخيستني سره وکولای سو د (۱۴۰۳هـ.ل) کال منظور سوې بوديجه د بوديجې د اجراء له اصولو سره سم مصرف کړو. اوسمهال بوديجه له هر ډول بهرنيو مرستو پرته

پاته برخه په دوهم مخ کي...



**د ملي بوديجې د ترتيب او اجراء په تړاو روزنيز ورکشاپ جوړ سو**

م ۲



**د ماليې وزارت د مرکزي رياستونو ۵۰ تنو نويو ګومارل سوو کارکوونکو ته روزنيز پروګرام جوړ سو**

م ۲




**د مستوفيتونو د بشري سرچينو مديرانو او د ولايتي ګمرکونو اداري مديرانو ته انلاين روزنيز پروګرام پيل سو**

م ۲




**د هرات ولايت د ګمرک چارو ۷٦ سلنه پرمختګ کړی دئ**

م ۲




**د فراه، کندهار، پکتيکا او هرات په ولايتونو کي يو شمېر قاچاقي توکي نيول سوي دي**

م ۳



**پاکستان او افغانستان به د دوه اړخيزو سوداګريزو وسائطو د تګ راتګ ميکانيزم پلی کړي**

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

# د ملي بوديجې د ترتيب او اجراء په تړاو روزنيز ورکشاپ جوړ سو

د ملي بوديجې لوی رياست د داخلي کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په موخه د ملي بوديجې د ترتيب او اجراء په تړاو (۲۰ ورځنی) روزنيز ورکشاپ د ملي بوديجې د پلان او ريفورم رئيس پوهنمل غلام عمرعبدالله او د ملي بوديجې اجرائيوي رئيس عبدالجبار وحدت په ګډون د ملي بوديجې لوی رياست د غونډو په تالار کي جوړ سو.

د ملي بوديجې د پلان او ريفورم رئيس محترم پوهنمل غلام عمرعبدالله د ياد ورکشاپ په پرانيستې وينا کي وويل، چي د ملي بوديجې لوی رياست د کار ماهيت او پايښت تخصصي او تخنيکي دئ، له همدې امله اړتيا ليدل کېږي، چي د کارکوونکو لپاره په هيواد دننه او بهر د ظرفيت لوړوني پروګرامونه برابر سي. هغه همدا راز زياته کړه، په کومه ټولنه کي، چي پوهه له يوه فرد څخه بل ته ونه لېږدول سي هغه ټولنه د پرمختګ او ښېرازی پر لور نه ځي؛ نو د يوې ښېرازه او پرمختللي ټولني درلودلو له پاره بايد د ظرفيت لوړوني همدغه ډول پروګرامونه جوړ سي.



وروسته د ملي بوديجې اجرائيوي رئيس محترم عبدالجبار وحدت د ظرفيت لوړوني پروګرامونو پر اړتيا او اهميت، د مالي چارو او بوديجې د اداري موخو په اړه خبري وکړې او وئې ويل؛ څرنګه چي د ملي بوديجې لوی رياست يو تخصصي او تخنيکي رياست دئ؛ نو له دې فرصتونو څخه بايد پوره ګټه واخيستل سي او په نږدې راتلونکي کي هم بايد د ملي بوديجې لوی رياست د تخنيکي ټيم له لوري د بوديجوي واحدونو له پاره ورته پروګرامونه ترتيب سي.

په پای کي بيا د ملي بوديجې د پلان او ريفورم رياست تخنيکي ټيم د غونډې ګډونوالو ته خپل پريزنټېشن وړاندي کړ او په بېلابېلو برخو کي ئې د کارکوونکو پوښتني ځواب کړې.

# د ماليې وزارت د مرکزي رياستونو ۵۰ تنو نويو ګومارل سوو کارکوونکو ته روزنيز پروګرام جوړ سو


د ماليې وزارت د بشري سرچينو رياست د يو لړ مراسمو په ترڅ کي د ياد وزارت په خيبرهال کي د مرکزي رياستونو (۵۰) تنو نويو ګومارل سوو کارکوونکو ته روزنيز پروګرام جوړ کړ.

مولوي احمدشاه شاکر د دغه پروګرام په پرانيستې وينا کي وويل، چي تاسو ته د نظام حالت معلوم دئ او تاسو د دې نظام د واکمنېدو د ځرنګوالي شاهدان ياست. دا اسلامي نظام استحکام، پياوړتيا او پرمختګ ته اړتيا لري، پر همدې بنسټ د ماليې وزارت رهبری د انساني قوې او اقتصادي بنسټونو د پياوړتيا په موخه د بېلابېلو روزنيزو پروګرامونو لړۍ روانه ساتلې، چي د نن ورځي پروګرام يو له هغو څخه دئ.

نوموړي، له ګډونوالو څخه وغوښتل، چي له دې پروګرام څخه په استفادې سره له مديريتي مهارتونو سره ځان اشنا کړئ او خپله مسلکي پوهه پراخه کړئ؛ ترڅو خپل مسؤليتونه په سمه توګه ترسره او د فساد مخه ونيسئ. هغه زياته کړه، فساد يوازي رشوت اخيستل او اختلاس نه دئ؛ بلکي کم کاري او د خلکو په کارونو کي د خنډ راوستل هم فساد بلل کېږي؛ نو که خپل مسؤليت په سمه توګه ترسره نه کړئ، فساد به مو کړی وي.

مراسم د خير دعا په لوستلو پای ته ورسېدل او روزنيز پروګرام رسماً پيل سو.

د يادوني وړ ده، چي دغه پروګرام به يوه اوونۍ دوام وکړي او مديريتي موضوعات به پکښي تدريس سي.



# د مستوفيتونو د بشري سرچينو مديرانو او د ولايتي ګمرکونو اداري مديرانو ته انلاين روزنيز پروګرام پيل سو

د ماليې وزارت د بشري سرچينو رياست د مستوفيتونو د بشري سرچينو مديرانو او د ولايتي ګمرکونو اداري مديرانو ته انلاين روزنيز پروګرام جوړ کړ. په دغه غونډه کي چي د ماليې وزارت اداري معينيت د غونډو په تالار کي جوړه سوې وه، اداري معين مولوي دوست محمد مخلص، د بشري سرچينو رئيس مولوي احمد شاه شاکر او د دغه وزارت يو شمېر کارکوونکو ګډون کړی وو.

د بشري سرچينو رئيس مولوي احمدشاه شاکر د دغه پروګرام په پرانيستې وينا کي وويل، چي تېر کال مو د مستوفيتونو د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په موخه بېلابېل پروګرامونه جوړ کړل؛ څو چاري په اصولي او قانوني ډول پرمخ ولاړي سي. سږکال هم د ظرفيت لوړولو له پاره انلاين پروګرامونه په پام کي لرو، دا پروګرامونه خورا مهم دي ځکه چي، په کارولو سره ئې کولی سئ،




چي خپلي دندي په سمه توګه ترسره کړئ او د هغه امانت حق چي تاسي ته در سپارل سوی دئ ادا کړئ.

اداري معين مولوي دوست محمد مخلص په خپلو خبرو کي د دې پروګرام جوړوونکو ته له خدايه د اجرونو غوښتنه وکړه او ګډونوالو ته ئې په خطاب کي وويل، چي لوی رب تاسي ته لوی نعمت درکړی دئ، چي هغه اسلامي نظام دئ او دغه نظام د ګڼو قربانيو په پايله کي واکمن سوی. په دې اسلامي نظام کي هر څوك مسؤليت لري او بايد په دې اړه عامه پوهاوی ترلاسه او هغه په پوره دقت، جديت او اخلاص ترسره کړي او نيت ئې يوازي د الله رضا او خلکو ته خدمت وي، نوموړي د پروګرام له ګډونوالو وغوښتل، چي له دغه پروګرام څخه په ګټه اخيستنه دي خپلو مسلکي کارونو ته پراختيا ورکړي، کارونه په مسلکي او تخصصي بڼه ترسره او هغه څه، چي زده کوي له نورو سره ئې هم شريك کړي.

غونډه د خير دعايې په ويلو پای ته ورسېده.

د يادوني وړ ده، چي دغه انلاين روزنيز پروګرام به يوه اوونۍ دوام وکړي، چي په هغه کي به د بشري سرچينو مديريت، ګومارنه، د اجراآتو او سوانحو د ارزوني پروسيجرونو، د اداري د پراختيا او د کارکوونکو د اړيکو پروسيجرونو، د قراردادي (NTA) او بالمقطع کارکوونکو پروسه تشريح کړل سي.

# د هوټلونو د اتحاديې استازو ته د مالياتي قوانينو په تړاو روزنيز پروګرام جوړ سو

د عوايدو د حقوقي خدمتونو او پاليسی رياست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمريت د سيسټم رياست په همکاری د هوټلونو اتحاديې د استازو لپاره د مالياتي قوانينو، طرزالعملونو، مالياتي نورمونو، لايحو او اظهارنامې وړاندي کولو په موخه روزنيز پروګرام د ګمرکونو او عوايدو په ملي اکاډمی کي جوړ کړ.

په دې تړاو جوړه سوې ناسته کي د عوايدو لوی رياست حمايوي مرستيال مولوي منصورالحق ذاکر، د عوايدو د حقوقي خدمتونو او پاليسی رئيس مولوي نداء محمد صديقي او آمرينو ګډون کړی وو.

په پيل کي مولوي منصورالحق ذاکر وويل، چي د افغانستان اسلامي امارت ولسونو ته په سيسټمونو او نورو برخو کي اسانتياوي رامنځته کړي دي او دې لړۍ ته به نور هم دوام ورکړي.

وروسته مولوي نداء محمد صديقي وويل، چي مونږ تر هغه وخته يو مسؤليت ښه مخته نه سو وړلای؛ تر څو پرې پوه نه سو؛ نو ځکه د عوايدو لوی رياست دا ډول روزنيز پروګرامونه چمتو کوي.

په پای کي د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمی آمر بلال احمد احدي ډاډ ورکړ، چي په راتلونکی کي به هم د عوايدو لوی رياست سره په همږغی دا ډول پروګرامونو ته د امکاناتو او اسانتياوو په رامنځته کولو کي پوره همکاري کوو.

د ماليې وزارت
د ګمرکونو او عوايدو معينيت
د عوايدو لوی رياست

Afghanistan Revenue Department
ARD

خلورمه برخه
ماليه پېژندنه

## د حکمي شخص د ماليې نورم او د مالياتو سنجش

### د حکمي شخص د ماليې نورم

د حکمي شخص پر کلنيو عايداتو باندي ماليه د اسنادو پر بنسټ د لګښتونو له مجرايي ورکولو څخه وروسته له خالصي ګټي څخه 20% سلنه اخيستل کېږي.

### د حکمي شخص پر عايداتو باندي د مالياتو سنجش

مثال: د احمد تجارتي شرکت، چي يو حکمي شخص دئ، په 1400 مالي کال کي ئې د 3,800,000 افغانيو اموال د خرڅ په موخه له خارج څخه وارد کړي دي او د 1400 مالي کال په جريان کي ئې ياد اموال په 5,000,000 افغانۍ خرڅ کړي دي، د مجرايي وړ لګښتونو په پام کي نيولو سره او د اسنادو پر بنسټ؛ پر عايداتو باندي ئې ماليه په لاندي ډول سنجول کېږي.

يادونه: پر عايداتو د مالياتو قانون د څلور شپېتمي او شپږ شپېتمي مادې د حکم مطابق حکمي اشخاص مکلف دي، چي ربعواره انتفاعي ماليه تأديه کړي او د مالي کال په آخر کي ئې د مصرف په توګه مجرايي ورکول کېږي.

| | |
|---|---|
| د اموالو د رانيولو بيه | 3,800,000 |
| د اموالو د خرڅ بيه | 5,000,000 |

ددې له پاره چي ناخالص عوايد معلوم کړو، د اموالو د خرڅ له بيې څخه د اموالو د رانيولو بيه منفي کوو.
5,000,000 - 3,800,000 = 1,200,000

د مثبته اسنادو پر بنسټ د مجرايي وړ کلني لګښتونه

| | |
|---|---|
| تجارتي اعلانونه | 25,000 افغانۍ |
| 4% سلنه انتفاعي ورکړل سوې ماليه | 200,000 افغانۍ |
| ترانسپورتي لګښتونه | 50,000 افغانۍ |
| د منقولي او غير منقولي شتمنۍ استهلاک | 75,000 افغانۍ |
| اداري لګښتونه | 450,000 افغانۍ |
| معاشونه او دستمزدونه | 220,000 افغانۍ |
| نور لګښتونه ( ټليفون، برېښنا، اوبه او ...) | 53,000 افغانۍ |
| د لګښتونو مجموعه | 668,000 |

د خالصي ګټي دلاسته راوړلو له پاره له 1,200,000 افغانيو ناخالصو عوايدو څخه 668,000 افغانۍ د مجرايي وړ کلنيو لګښتونو مجموعه منفي کوو.
1,200,000 - 668,000 = 532,000

پر عايداتو باندي د مالياتو د سنجش له پاره پر عايداتو باندي مالياتو قانون د څلورمي مادې د(1) فقرې د حکم مطابق د شرکت خالصه ګټه په 20٪ سلنه نورم کي ضربوو.
532,000x 20% = 106,400

د احمد تجارتي شرکت پر کلنيو عايداتو باندي ماليه په 1400 مالي کال کي 106,400 افغانۍ کېږي او شرکت مکلف دئ؛ چي ياده ماليه د راوروسته کال د جوزا د مياشتي (دريېمي مياشتي) تر پايه د امارت د عوايدو بانکي حساب ته تحويل کړي.

MofAfghanistan mof.gov.af

# د هرات ولايت د ګمرک چارو ۷٦ سلنه پرمختګ کړی دئ




د ماليې وزارت له لوري په ګمرکونو کي د مسلکي کادرونو د ګومارلو، روښتيا رامنځته کولو او د سوداګريزو توکو په طی مراحلو کي د چټکتيا او اسانتياوو رامنځته کولو له کبله، د هيواد د ګمرکونو په چارو کي د پام وړ پرمختګونه رامنځته سوي دي.

پر همدې بنسټ، د ګمرکونو لوی رياست د تخنيکي ارزوني له مخي د هرات ولايت د ګمرك چارو د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال د غويي (ثور) په مياشت کي د تېر کال د همدې نېټې په پرتله (۷٦) سلنه پرمختګ کړی دئ.

د يادوني وړ ده، چي د هرات ولايت ګمرك د رهبری فعالي هڅي او لاسته راوړني د هرات ولايت د والي، شيخ الحديث نور احمد اسلام جار له لوري د ستاينليك په ورکولو سره وستايل سوې او دوی ته د لا ښه خدمت او په چارو کي د پرمختګ په موخه د پوره ملاتړ ډاډ ورکول سو.

# د عوايدو لوی رياست رهبری د صرافانو اتحاديې له مسئولينو سره وکتل

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست تخنيکي مرستيال عبدالولي نوري، د دغه رياست د حقوقي خدمتونو او پاليسی رئيس مولوي نداء محمد صديقي او يو شمېر آمرينو د صرافانو د اتحاديې له مسؤلينو سره وکتل.

په دغه کتنه کي د صرافانو له پاره په اړوندو چارو کي د لازمو اسانتياوو په رامنځته کولو، د مالياتي اظهارنامو په برخه کي د لا ښه پوهاوي او په اړوندو برخو کي د صرافانو د شته ستونزو په اړه خبري وسوې.

د عوايدو لوی رياست تخنيکي مرستيال د صرافانو اتحاديې مسؤلينو ته ډاډ ورکړ، چي ستونزو ته به ئې پر وخت رسېدنه کېږي او دوی کولای سي، چي په ډاډه زړه هر وخت خپلي ستونزي، غوښتني او وړانديزونه له دغه رياست سره شريك کړي.

په پای کي د صرافانو د اتحاديې مسئولينو د عوايدو لوی رياست څخه مننه وکړه، چي تل ئې د دوی ستونزي اورېدلي او د حل په موخه ئې اړين اقدامات کړي دي.

... د پاته برخي دوام: د ملي بوديجې د غوره مديريت او له بې ځايه لګښتونو

له کورنيو سرچينو تمويلېږي؛ خو د منظور سوي بوديجې د اغېزمن مصرف له پاره له بې ځايه لګښتونو څخه بايد مخنيوی وکړو؛ تر څو د بوديجې له کسر سره مخ نه سو.

نوموړي، د بوديجوي واحدونو له استازو څخه وغوښتل، چي د بوديجې د کنټرول، مديريت او اغېزمن مصرف په برخه کي له ماليې وزارت سره همکاري وکړي.

وروسته د خزاينو لوی رياست د محاسباتو رئيس محب الله صاحبزاده د ياد سيمينار په اړه هر اړخيز معلومات وړاندي کړل او زياته ئې کړه، چي د روان کال بوديجې د غوره تطبيق او د بوديجې د احتمالي کسر د مخنيوي له پاره متحدالمال او د بوديجې د اجراء اصولنامې ته په کتو اجراآت وکړئ، د دې ترڅنګ د تېرو کلونو پوروونه ويلټئ او تثبيت ئې کړئ؛ ترڅو تاديه او ورکړل سي.

په پای کي د ماليې وزارت د بوديجې د اجراء اصولنامه او (۴٦۴۸) ګڼه متحدالمال د پريزينټېشن په بڼه وړاندي او د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل سول.

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

# د عوایدو لوی ریاست اړوند د پراختیايي پروژو او مالي لګښتونو په تړاو ناسته وسوه

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رئيس مولوي حافظ شاه حسين حسيني په مشرۍ او د دغه رياست د ټولو مسؤلينو په ګډون، په (۱۴۰۳) مالي کال کې د ياد رياست د پراختيايي پروژو او مالي لګښتونو د کنټرول پر موضوعاتو خبري او بحثونه وسول. په دغه ناسته کې د پراختيايي پروژو د ښه تطبيق تر څنګ، په بوديجوي واحدونو کې د غير مالياتي عوايدو د څارني، په ولايتونو کې د کانونو د استخراج څخه د څارني له پاره د ګډ



ټيم رامنځته کولو او په امارتي وزارتونو کې له (TAIS) مالياتي سيستم څخه د کار اخيستلو د ضرورت په اړه هم بحثونه وسول. د عوايدو لوی رئيس له لوري، د دغه رياست اړتياوو ته د رسېدني، د منظم مالي پلان پر جوړېدو او د مالي لګښتونو پر کنټرول باندي ټينګار وسو؛ تر څو له ملي بوديجې څخه د اضافي لګښتونو په کلکه مخنيوی وسي.

# د ګمرکونو لوی رياست د روان مالي کال پنځمه اداري ناسته وسوه

د ګمرکونو لوی رياست د (۱۴۰۳هـ.ل) کال پنځمه اداري ناسته د ګمرکونو لوی رئيس الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د ياد رياست په مقام کې وسوه. په دې ناسته کې چې د ګمرکونو لوی رياست تخنيکي او عملياتي مرستيالانو، رئيسانو او يو شمېر آمرينو ګډون کړی وو، په پيل کې د ګمرکونو لوی رياست د عملياتي مرستيال په مشرۍ هرات، نيمروز او د فراه ولايتونو ګمرکونو ته د يادو ګمرکونو د چارو د ارزوني په موخه د تللي تخنيکي پلاوي راپور وړاندي سو، چې په تړاو



ئې بحث او د نظرونو تبادله وسوه. ور پسې د ګمرکونو لوی رياست د ورځنيو چارو پر لا ښه والي، د هيواد په ګمرکونو کې د صادراتي، وارداتي او ترانزيټي توکو په برخه کې د سوداګرو پر ستونزو او حل لارو، په هيواد کې د سوداګرۍ د لا ودې په موخه په ګمرکونو کې د اسانتياوو په رامنځته کېدو او پر يو شمېر نورو موضوعاتو بحث او خبري وسوې او په اړه ئې لازمي پرېکړي وسوې.

# د هرات او آقينې ګمرکونو کارکوونکو ته جوړ سوي روزنيز ورکشاپونه پای ته ورسېدل



د ګمرکونو ملي اکاډمۍ د تدريسي پلان له مخي، د هرات ګمرک (۷۲) تنو کارکوونکو ته (۴۵) ورځنی او د آقينې ګمرک (۲٦) تنو کارکوونکو ته (۱۵) ورځنی جوړ سوي روزنيز ورکشاپونه پای ته ورسېدل. په دې ورکشاپونو کې د ګمرکونو ملي اکاډمۍ د مسلکي ښوونکو له لوري يادو کارکوونکو ته د سوداګريزو توکو د تشرېح، ګمرکي تعرفې، بيې ايښودني، د دروازو مديريت او د اسيکوډا سيستم په برخو کې عملي او نظري زده کړي ورکړل سوې. د يادوني وړ ده، چې د چارو د لا ښه والي او په معياري ډول د ګمرکي طی مراحلو ترسره کولو په موخه د ولايتي ګمرکونو د کارکوونکو وړتيا لوړول د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست په لومړيتوبونو کې قرار لري، چې له دې وړاندي هم زيات شمېر کارکوونکو ته په بېلابېلو برخو کې روزنه ورکړل سوې او دا لړۍ به په راتلونکي کې هم دوام ولري.

# د فراه، کندهار، پکتيکا او هرات په ولايتونو کي يو شمېر قاچاقي توکي نيول سوي دي

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د ګرځنده څارني ځيرکو کارکوونکو تېره اوونۍ د فراه، کندهار، پکتيکا او هرات ولايتونو په بېلابېلو سيمو کې يو شمېر قاچاقي توکي کشف او نيولي دي. په نيول سوو توکو کي (٦٥٧٦) کيلو ګرامه رُب، (۲٦٥۰) کيلو ګرامه لوبيا، (۲۳۰۰) کيلو ګرامه چاکلېټ، شپږ عرادې موټرسايکلونه، (۳۹۰) کيلو ګرامه لواشک، (۷۳۳) کيلو ګرامه شامپو، (۱۲۰) کيلو ګرامه انساني طبي درمل، (۱۹۴) کيلو ګرامه مکروني، (۳۸۰) کارټنه بيسکوټ او (۳۰) کارټنه کيچپ شامل دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې هيواد ته راوړي. په دې تړاو نيول سوي تورن کسان د نورو اجراآتو




په موخه اړوندو ارګانونو ته سپارل سوي دي. د يادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د ګرځنده څارني ويښ کارکوونکي په ټول هيواد کې د قاچاقي او ممنوعه توکو له وړلو او راوړلو څخه په کلکه مخنيوی کوي.

# د روزنيز پروګرام دوهمي دورې له بشپړاوي وروسته د ۱۱ مستوفيتونو له مالي او حسابي کارکوونکو څخه ازموينه واخيستل سوه

د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست د بشري سرچينو رياست په همکارۍ د (پنجشير، بدخشان، تخار، کندوز، بغلان، سمنګان، بلخ، باميان، سرپل، جوزجان او دايکندي) ولايتونو د (۱۱) مستوفيتونو مالي او حسابي برخي کارکوونکو د ظرفيت لوړوني په موخه يو روزنيز پروګرام جوړ کړی وو، چې د دغه پروګرام له بشپړاوي وروسته له يادو کارکوونکو څخه ازموينه واخيستل سوه. دغه ازموينه، چې د خزاينو لوی رياست د مسؤلينو په شتون کې د ګمرکونو او عوايدو په ملي اکاډمۍ کې واخيستل سوه، په ټوله کې د مستوفيتونو د مالي او حسابي برخي (۵۴) تنو کارکوونکو پکښې ګډون کړی وو. هغه کسان، چې له دې روزنيز پروګرام څخه ئې په سمه توګه ګټه پورته کړې او په ازموينه کې بريالي سي، خپلي دندې ته به دوام ورکوي او د هغو کسانو پر ځای به نوي کسان وګومارل سي چې په ازموينه کې نه وي بريالي سوي. د يادوني وړ ده، چې د يو شمېر نورو ولايتونو د مستوفيتونو کارکوونکو ته به هم د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست د روزنيز پروګرام دريېمه دوره ډېر ژر پيل سي.

# اعلانات داوطلبی


### دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژهء (تخلیه و بارگیری اموال در گمرک محصولی و سرحدی کندهار) دارای نمبر تشخیصیه ٠١٦-NCB/NCS/١٤٠٣/MOF-Rebid که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ٠٤/ سرطان/١٤٠٣ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ١٣/ سرطان/١٤٠٣ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ٢٥٠,٠٠٠ (دو صد و پنجاه هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، تهیه و تدارک پرزه جات اسکنر در پنج ولایت گمرک حیرتان، کابل، نیمروز، اسلام قلعه و میدان کندهار دارای نمبر قرارداد ١٤٠٢/MOF/ Rebid-٠٦٨-NCB/G را با شرکت افغان تکسار لمیتد به قیمت مجموعی مبلغ ٥,٤٦٢,٢٠٠ (پنج میلیون و چهار صدو شصت دو هزارو دو صد) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ٧ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات، آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

### د داوطلبۍ خبرتيا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د خوست مستوفيت د بريښنا سيستم د اصلاح، ترميم او تدارک) په پروژه کي، چي تشخصيه نمبر ئې (٠٣٣-NCB/G//١٤٠٣/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لاري د شرطپاڼي له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرسونو څخه ترلاسه کړي.
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (سرطان/ ٣ مه١٤٠٣) د سهار ١٠:٠٠ بجې.
د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د (سرطان/١٢/ ١٤٠٣) د ماسپښين ٠٢:٠٠ بجې.
د آفر تضمين: څلويښت زره (٤٠٠٠٠) افغانۍ.
ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت.
د اړيکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦
په څنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

### د داوطلبۍ خبرتيا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ګمرکونو د ساتني قطعې د اړتيا وړ يوه پايه ١١٠KV جنراټور د تهيه او تدارک) په پروژه کي، چي تشخصيه نمبر ئې (٠٣٠-NCB/G//١٤٠٣/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لاري د شرطپاڼي له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرسونو څخه ترلاسه کړي.
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (سرطان/ ٤ مه١٤٠٣) د سهار ١١:٠٠ بجې.
د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د (سرطان/١٣/ ١٤٠٣) د ماسپښين ٠٢:٠٠ بجې.
د آفر تضمين: درې سوه زره (٣٠٠٠٠٠) افغانۍ.
ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت.
د اړيکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦
په څنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

# شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : (+)۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰






## General Directorate of Customs Inaugurates Project Worth Approximately 232 mln Afs at Islam Qala



The project of constructing of a parking lot worth 231.8 million Afs at the customs house of Islam Qala in Herat province has been inaugurated by cutting the ribbon on behalf of Mufti Abdul Matin Saeed, the Director of General Customs of Mof. This parking area will be built on 37 Jiribs of land in a standard way with all the necessary facilities, which will be in possession of fire extinguishing system, green area and power system. The entire cost of this project will be paid from the development budget of Mof, which will be completed by the 'National Development Corporation' within 14 months. Notably, with the construction of this parking area, despite traders and customs officials will benefit from such facilities provision, the necessary speeding up and order will be created in the processing of commercial goods.

## Various Contrabands Seized in Farah, Kandahar, Paktika, Herat Amid Patrolling



The vigilant 'Mobile Surveillance Staff' of the General Directorate of Customs of MoF detected and seized various contrabands in different areas of Farah, Kandahar, Paktika and Herat provinces during last week. Among the seized contrabands are 6,576kg of tomato paste, 2,650kg of bean, 2,300kg of chocolate, six motorcycles, 390kg of fruit leather or fruit-roll, 733kg of shampoo, 120kg of medicine, 194kg of macaroni, 380 cartons of biscuits and 30 cartons of ketchup. According the mobile surveillance staff, smugglers wanted to bring the prohibited items to Afghanistan surreptitiously. The accused persons in this regard have been handed over to the relevant bodies for further proceedings. It is merely worth mentioning that the mobile surveillance staff of MoF meticulously halts the export and import of contrabands and prohibited goods throughout the country.

## Customs Affairs of Herat Province Progress by 76% After General Directore of Customs Evaluates Daily Activities for Improvement

Significant improvements have been made for customs affairs due to the appointing professional staff in customs, creating transparency and speeding up facilitating in the process of trading goods by MoF. According to the technical evaluation of the General Directorate of Customs, the customs affairs of Herat province have improved by 76% in the month of Sawar of the current FY1403 compared to the same month last year. Noticeably, the efforts and achievements of the leadership of the customs of Herat province were praised by the Governor of Herat, Sheikh Al-Hadith Noor Ahmed Islam Jar, and they were assured of full support for better service and progress in affairs.




## پاکستان او افغانستان به د دوه اړخیزو سوداګریزو وسائطو د تګ راتګ میکانیزم پلی کړي



د چین شینوا ـ Xinhua خبري اژانس او تر څنګ ئې د پاکستان د بیزنیس ریکاردر – BUSINESS RECORDER او ډان ـ DAWN په نوم درې بېلابېلو رسنیو راپور خپور کړی دئ، چې وایي د پاکستان او افغانستان د سوداګرۍ وزارتونه پر دې راغلل، چې د موقتي داخلې سند (TAD) میکانیزم عملي کړي؛ ترڅو په مرسته ئې د دواړو هیوادونو ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ د بار وړونکو وسائطو حرکت تنظیم سي. د شینوا راپور په خپل متن کي وایي: "له افغانستان څخه لومړی موټر، چې په ډبرو سکرو بار وو د اسلام اباد پر خوا روان سو. له تورخم څخه په داسي حال کي درې لارۍ/ باري موټرونه واوښتل، چې د موقتي داخلې سندونه ئې درلودل." شینوا د خبرپاڼې په حواله کاږي، چې په افغانستان کي د ثبت سوو موټرونو له پاره د موقتي داخلې سند غوښتنلیکونه/ عریضې به په ټولو کاري ورځو کي په کابل کي د پاکستان له سفارت او په کندهار کي له پاکستانۍ کونسلګرۍ/ قونسلګرۍ څخه راټولي سي. په خبر کي راځي، چې په کوټه او پېښور ښارونو کي به هم یاد ډول غوښتنلیکونه د افغانستان په کونسلګریو کي را جمع سي. راپور د عوامو د پوهاوي له پاره کاږي، چې د دواړو ملکونو د سفارتونو او کونسلګریو په ویبسایټونو کي د موقتي داخلې سندونو اړوند د غوښتنلیك فورمې سته؛ تر څو مراجعه کوونکي ور څخه کار واخلي او د لاریو تګ راتګ قانوني بڼه واخلي.

د شینوا پر راپور سربېره د بیزنیس ریکارډر په نوم پاکستانۍ رسنۍ «د پاك - افغان سوداګري: د موقتي TAD میکانیزم پلي کولو له پاره موافقه و سوه» تر سرلیك لاندې یوه بله خبره هم په دونه توپیر ور اضافه کوي، چې وایي: "په کابل او کندهار کي به دا سندونه په هرو پنځو کاري ورځو کي د ورځې (۱۱:۰۰ – ۱۲:۰۰) بجو پوري راټولېږي، او په کوټه او پېښور کي بیا د ورځې (۱۰:۰۰ – ۱۱:۰۰) بجو پوري جمع کېږي." د ډان په نوم بله مشهوره پاکستانۍ رسنۍ بیا په لږ تفاوت د «لېږدوونکي د افغانستان د سوداګرۍ له پاره د وزارت اجازې ته اړتیا لري» تر سرلیك لاندې یوه بله خبره هم ور علاوه کړې ده، چې هغه بیا داسي بیان کوي: "د موقتي داخلې سند (TAD) فیس (۱۰۰) امریکایي ډالره کېږي او د اعتبار موده ئې د شپږو میاشتو له پاره ده. دا سند به په یوه وخت کي یوازې د یوه موټر له پاره وي." ډان د پاکستاني مسؤلانو په ټینګار سره کاږي، چې د پاك – افغان د دوه اړخیزې سوداګرۍ هیڅ لاریو موټرونو ته د روان زیږدیز کال د جون تر (۱۵مې) نېټې وروسته به اجازه ور نه کړل سي؛ تر هغو، چې د داخلېدو سند ئې نه وي اخیستی.




### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.

ټلیفون او واټساپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶ ( +۹۳ )

برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.